(١)

## روژه د ايمان باور او د اتلانو د جوړوني مياشت ده

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دى چي د ټولو مخلوقاتو پالونکى دى هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: {مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا} ژباړه:« له مؤمنانو څخه ځيني داسي شخصيتونه شته چي له الله سره يې کړې ژمنه رښتيا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوك د وخت راتلو ته انتظار باسي. هفوى پخپله کړنلاره کښي هيڅ تبديلي را نه وستله»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دى چي هيڅ شريک نلرى، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دى، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

په الله تعالى باندي ايمان او باور لرل په بنده باندي د الله جل جلاله د نمتونو څخه يو لوى نعمت دى، پدي هکله الله تعالى فرمايي: «وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ * فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ» ژباړه: «خو الله تاسي ته د ايمان مينه درکړه او هغه يې ستاسي لپاره په زړه پوري وګرځاوه، او له کفر، فسق او نافرمانۍ څخه يې تاسي کرکجن کړئ، پر حق ثابت کسان همدغه دي، همدغسي خلك د الله په فضل احسان سره پر سمه لاره دي او الله د علم او حکمت خاوند دى» بى له شکه د روژي مبارکه مياشت د حقيقي ايمان مياشت ده همدي لپاره په قرآن کريم کې د روژې په هکله د آياتونو پيل د ايمان په صفت باندي شوى لکه چې الله تعالى فرمايي: «يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ» ژباړه: «اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړاى

شوي، لکه چي ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پيروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چي په تاسي کي د پرهېزګارۍ صفت پيدا شي».
حقيقی ايمان دا دی چې ته بايد د هر هغه څه تصديق وکړې چې د الله تعالی له لوري راغلي او د هغې سره سم عمل وکړې، د جبرائيل عليه السلام په مشهور حديث کې د ايمان حقيقت بيان شوی دی چې مومن مسلمان بايد پخپل زړه کې ځای پر ځای کړې کله چې يي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه د ايمان په هکله پوښتنه وکړه نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ايمان دا دی چې په الله جل جلاله د هغه په ملائکو کتابونو رسولانو او د قيامت په ورځ باندي ايمان او باور ولري او همدارنګه پدي باور ولري چې اندازه د خير او شر د الله په لاس کې دی، ايمان يوائې کلمه نده چي په ژبه وويل شي بلکه ايمان ددي ترڅنګ بايد په زړه کې هم ځای پيدا کړي او هغه په عمل کې ثابت کړې، پدي هکله الله تعالی فرمايي: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ *الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ * أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا» ژباړه: «رښتيني مؤمنان هغه دي چي زړونه يي د الله د ياد په اورېدلو لړزيږي. او کله چي د هغو په وړاندي د الله ايتونه لوستل کيږي، نو د هغو ايمان زياتيږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري، هغه کسان چي لمونځ قائموي او څه چي مو هغو ته ورکړي دي، له هغو څخه يې(زموږ په لار کښي) لګوي، همداسي خلك حقيقي مؤمنان دي»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: بشپړ مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان د هغه د ژبي او لاس څخه په امان کې وي او بشپړ مومن هغه دی چې د نورو مومنانو مالونه او ځانونه د هغه څخه په امن کې وې.
هغه څوک چې پخپلو اخلاقو او کړنو سره د الله جل جلاله د امر او نهې څخه انحراف وکړې نو هغه د ايمان د لارې څخه بې لاري کيږي پدي هکله نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې يو زنا کار زنا کوې

نو هغه مومن ندی او ځوک چې شراب څکي د شراب څکلو په وخت کې هغه مومن ندی او ځوک چې غلا کوي د غلا کولو په وخت کې هغه مومن ندی.
نبي کريم صلی الله عليه وسلم څرګنده کړي ده هغه ځوک بشپړ مومن ندی چې خپل ګاونډي ته زيان رسوي، او ځوک چې په خيټه موړ وي او ګاونډي يي وګی وي او حال دا چې د هغه په حال خبر وي، ځکه چې ايمان سره عمل لازمي دی نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: قسم په خدای چې مومن ندی قسم په خدای چې مومن ندی قسم په خدای چې مومن ندی ورته وويل شول ای د الله رسوله هغه ځوک دی وي فرمايل: هغه چې خپل ګاونډي د هغه د زيان څخه په امن کې نه وي همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: هغه چا په ما باندي ايمان ندی راوړی چې پخپله په خيټه موړ وي او د هغه ګاونډي وګی وي او حال دا چې هغه يي په حال پوه وی.
نو واقعي ايمان هغه دی چې خاوند يي د نورو په حقونو باندي تيری ونکړي او د ايمان د خاوند زړه د کيني حسد ځان ځانی چل فريب خيانت او فساد څخه پاک وي، د ايمان خاوند اخلاق جوړوي او د ايمان اغيزی يي د هغه په سلوک کړه وړه او په ژوند او جهان کې د هغه حرکت سم وي او د ټولو خلکو سره د هغه چلند جوړيږي، هغه په انسانانو حيواناتو جماداتو باندي رحم کوي ترڅو د الله تعالی رضا لاس ته راوړي الله تعالی فرمايي: « وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا * إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا» ژباړه: « او د الله په مينه کښي مسکين، يتيم او بندي ته خواړه ورکوي، (او هغو ته وايي چې) موږ تاسي ته يوازي د الله په خاطر خواړه درکوو. موږ ستاسي څخه نه څه بدله غواړو، نه مننه».
ايمان داسي يو بوټی دی چې اصل يي ثابت او فرعه يي په اسمان کې ده کله چې اصل يي پياوړی شي نو ريښي يي هم ثابتيږي، او واقعي روژه

هم د ایمان څخه سرچینه آخلي په نفس کې آرامي او اطمنان خپروي پداسي ډول چې الله تعالی د انسان څارنه کوي نو حقیقي روژه دار درواغ نه وايي ځکه چې روژه او درواغ نه سره جمع کیږي روژه د الله جل جلاله له لوري د څارني په لوړه درجه کې راځي چې دښکاره څخه مخکې په پټه کې دا ترسره کیږي ځکه دا د بنده او د هغه د رب ترمنځ راز دی او درواغ بیا د منافقت د لویو نښو څخه شمیرل کیږي چې ددي په سر کې راځي او د روژي د واقعیت سره په ټکر کې دی نو د همدي لپاره دا دواړه هیڅکله هم نه جمع کیږي یا به روژه وي او یا به درواغ همدي لپاره نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې درواغو وینا او کار پرینږدي نو الله تعالی خو دیته اړتیا نلري چې خوراک او څښاک ورته پریښودل شي او کله چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حخه وپوښتل شول آیا مومن ډارن وي؟ وي فرمایل هو بیا ورته وویل شول آیا مومن بخیل کیدلای شي؟ وي فرمایل هو بیا ورته وویل شول آیا مومن درواغجن کیدلای شي؟ وي فرمایل: نه.

په الله تعالی باندي ایمان لرل یو بیل خوند لري چې د رضا د خاوندانو او مومنانو څخه پرته بل څوک د هغي احساس نشي کولای لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: د ایمان خوند هغه چا څکلی چې الله تعالی يي خپل رب اسلام يي خپل دین او محمد صلی الله علیه وسلم يي خپل رسول منلی دی همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: درې شیان او کارونه چې په چا کې پیدا شي په هغه کې د ایمان خوند او ښائست رامنځته کیږي لومړی دا چې الله او د هغه رسول ورته تر هرڅه ډیر ګران وي او د یو چا سره د الله تعالی د رضا پخاطر مینه کوي او بل دا چې کفر ته ګرځیدل دا سي بد ګڼي لکه یو څوک چې په اور کې واچوي.

ایمان او نیک اخلاق یو د بل سره تړلي دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: بشپړ ایمان د هغه چا په برخه کیږي چې نیک اخلاق ولري او

خلک په څو ډوله دي دوی هغه خلک دي چې نورو سره مینه کوېاو نور خلک لدوی سره مینه لري او څوک چې نه د بل چا سره مینه لري او نه لده سره څوک مینه لري نو په هغه کي خیر نشته، نو ایمان او عبادت دوه رڼاګاني دې او څوک چې د ایمان او د عبادت خوند وګوري هغه بیا له نورو سره زغم آساني او خه چال چلند کوي د خدای په مخلوق باندي کبر نکوي او بدو ته په بدو ځواب نه ورکوي بلکه همیشه بخښنه کوي نو د همدي لپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: که په تاسو ک چا روژه نیولي وي نو بي ګټي خبري دي نه کوي او نه دي له چا سره جګړه کوي که یو څوک هغه ته کنځل وکړي او یا ورسره لاس واچوي نو ورته دي ووایه چې زه روژه دار یم.

او عاقل شخص باید پدي ځان پوه کړې چې یوائې په عبادت نشي کولای جنت ته داخل شې بلکه د عبادت ترڅنګ نیک اخلاق زغم او د خلکو سره نیک او خه چلند هم باید ولري ترڅو وکولای شي جنت ته داخل شي پدي هکله نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: له تاسو څخه مخکي د یو شخص سره حساب کتاب کیدلو خو هغه هیڅ ښیګڼي نه وي کړې خو یو کار پکې وو چې د خلکو سره به یوځای وو او پیسه دار هم وو او خپلو غلامانو ته یي امر کړی وو چې د بې وزلو سره مرسته وکړي نو الله تعالی د هغه ګناهونه وبخښل.

مونږ ټینګارکوو چې واقعي ایمان داسي یوه رڼا ده چې الله تعالی د خپل مومن بنده په زړه کې آچوې چې په پایله کې د هغه په زړه کې حکم او باور ځای نیسي او د الله تعالی ده رڼا ګوري د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی یو ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم بهر ووتلو د انصارو له یو ځوان سره چې حارثه بن نعمان نومیدو مخامخ شو ورته یي وفرمایل: ای حارثه نن سهار دي څنګه پیل کړ؟ هغه وویل سهار مي داسي پیل کړ چې واقعي مومن وم نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: وګوره څه وایي ځکه هر حق حقیقت لري نو ستا د ایمان حقیقت

څه دی؟ وي ویل نفس مي له دنیا جلا کړ شپه مي ژوندی کړه او ورځ مي ښکلی پیل کړه ګویا چې زه د خپل پروردګار عرش ته ښکاره ګورم او ګویا زه جنتیان ګورم چې څنګه په جنت کې په خوښی سره ګرځې او د دوزخ خاوندان ګورم چې څنګه یو له بل سره اخته دي نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: څه چې دي لیدلي په هغي پابند ووسه بنده چې الله تعالی د هغه زړه په رڼا او ایمان باندي ښائسته کړی دی.
ایمان بیلابیلي برخې او زیات اړخونه لري هر مومن بنده باید د هغی په پابندی کې کوښښ وکړې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: ایمان څو اویا او یا هم څو شپیته برخي لرې غوره پکې دا وینا ده چې لا اله الا الله او ادنا کار یي دا دی چې د لارې څخه زیان رسونکی شی لري کړې او حیا هم د ایمان یوه برخه ده، او د حسن بصري څخه یو سړي پوښتنه وکړه چې آیا ته مومن یې؟ هغه ورته وویل ایمان په دوه ډوله دی که ته له ما څخه په الله تعالی د هغه په ملائکو کتابونو رسولانو جنت دوزخ د مرګ څخه وروسته په ژوندي کیدلو او حساب کتاب باندی ایمان لرل یادوي نو زه مومن یم او که ته له ما څخه د الله تعالی ددغه وینا په هکله پوښتنه کوي چې فرمایي: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ *الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ * أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا» ژباړه: «رښتیني مؤمنان هغه دي چې زړونه یې د الله د یاد په اوریدلو لړزیږي. او کله چې د هغو په وړاندي د الله ایتونه لوستل کیږي، نو د هغو ایمان زیاتیږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري، هغه کسان چې لمونځ قائموي او څه چې مو هغو ته ورکړي دي، له هغو څخه یې(زموږ په لار کښې) لګوي، همداسي خلك حقیقي مؤمنان دي»، نو زما دي په الله تعالی قسم وي چې زه نه پوهیږم آیا زه لدوی څخه یم او که نه.
ریښتینی ایمان ایماندار ته د آرامی او د امن احساس ورکوي، او ښه ژوند د ایمان پرته ناشوني دی الله تعالی فرمایي: « مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ

أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً» ژباړه: « هر څوك چي ښه عمل وکړي که هغه نارينه وي او که ښځه، په دې شرط چي مؤمن وي، پر هغه به مونږ په دُنيا کښي سپيڅلی ژوند تېر کړو»، په بل ځای کې فرمايي: « الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ» ژباړه: « همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلك هغه کسان دي چي (ددې پيغمبر بلنه ) يې منلي ده او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره ډاډينه ور په برخه کېږئ. خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چي زړونو ته ډاډينه ورپه برخه کوي»او شاعر وايی:

*کله چې ايمان نه وې نو آرامي نه وي*
*او څوک چې دين ژوندی نکړی دنيا ورته نشته*
* او څوک چې په ژوند باندي د دين پرته راضی شی*
* نو زوال يي خپل ځان ته پخپله نږدی کړی *

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم
*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.
ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:
دا چې روژه د ايمان مياشت ده ترڅنګ يي د اتلانو د زيږوني او جوړوني مياشت هم ده، روژه هغه عملي مکتب دی چې واقعي قهرمانان را برڅيره کوې احمد شوقي وايي: روژه حرمان او شرعي پرهيز، ادب د لوګې سره د الله تعلی لپاره خشوع او خضوع کول د هر فض لپاره حکمت وې په

ښکاره دا یو ډول عذاب دی خو په باطن کې بیا دا رحمت دی شفقت او مهرباني رامنځته کوي په خیرات او صدقې باندي هڅونه کوي تکبر او غرور له منځه وړي او صبر ښایي نیک کارونه په لاره آچوي څوک چې په مړخ باندي عادت وي وګی شي او څوک چې په لذت او عیش عشرت باندې وي د هغې څخه محروم شي او یدي پوه شي چې محرومیت څنګه رامنځته کیږي او پدي پوه شي کله چې محتاج شي څنګه د درد احساس کوي.

څوک چې په قرآن کریم کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې اتلولي او د میړانې صفت الله جل جلاله هغه چاته ورکړی چې وړتیا یي ولري چې ددي وړتیاوو څخه یو هم دا دی چې د الله تعالی سره په عهد او وعده کې ریښتینی پاتي شي او په هیڅ ډول بدلون او بي لاریتوب ونکړي الله تعالی فرمایي: {مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا} ژباړه:« له مؤمنانو څخه ځیني داسي شخصیتونه شته چي له الله سره یې کړې ژمنه ربښتیا کړې ده: له هغو څخه چا خپل نذر پوره کړ او څوك د وخت راتلو ته انتظار باسي. هغوی پخپله کړنلاره کښي هیڅ تبدیلي را نه وستله»، همدارنګه واقعي اتلان هغه څوک دي چې خپل نفسونه او مالونه یي د الله په لاره کې وقف کړي وي او دا د دین هیواد او ابرو لپاره د خپل نفس او مال څخه تیر وي ترڅو د الله تعالی رضا لاسته راوړي الله تعالی فرمایي: «إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ» ژباړه: «حقیقت دا دی چي الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کښي اخیستي دي. هغوی د الله په لار کښي جنګیږي، نو وژني او وژل کیږي. له هغو سره په تورات، انجیل او قرآن کښي (د جنت وعده) د الله پر ذمه باندي یوه کلکه پخه وعده ده. او څوك دی چي له الله

څخه زيات د خپلي ژمني پوره کوونکی وي. نو خوښ اوسئ په خپلي دغي سودا چي د خدای سره مو کړېده، همدا تر ټولو ستر بریالیتوب دی».
د روژي مبارکه میاشت د جوماتونو د آبادئ او د شپي د لمونځونو میاشت ده او دا دواړه د شخصیت او د اتلولی په رامنځته کولو او جوړولو کې مهم رول لري الله تعالی فرمايي: «يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ * قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا * نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا * أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا* إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا * إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا» ژباړه: «ای (په جامو کي) ځان نغښتونکیه، ویده کېدونکیه! شپه په لمانځه کښي په ولاړي تېره کړه خو کمه، یا نمايي شپه، یا له هغې څخه یو څه کمه کړه، یا له هغې څخه یو څه زیاته کړه؛ او قُرآن ښه په کراره کراره لوله، موږ پر تا باندي د یو درانده کلام نازلوونکي یوو، په حقیقت کښي د شپې پاڅېدل، د نفس کنټرولولو لپاره ډېر اغېزمن او د قُرآن د صحیح لوستلو لپاره زیات مناسب دي»، په بل ځای کې فرمايي: «فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ِر جَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ» ژباړه: «(د هغه د رڼا خوا ته لار موندونکي) په هغو کورونو (جوماتونو) کښي موندل کيږي چي الله د هغو د لوړولو او په هغو کښي د خپل نوم د یادولو حکم کړی دی. په هغو کښي سهار او ماښام خلك د هغه پاکي بیانوي (لمونځونه کوي) داسي سړي دي چي سوداګري او راکړه ورکړه یې د الله له یاد څخه، د لمانځه له اداکولو او د زکات له ورکولو څخه نه غافل کوي. هغوی له هغې ورځې څخه وېرېږي چي په هغې کښي به د زړونو د اوړېدو را اوړېدو او د سترګو د ړدو ختلو وار راشي» او د جنتیانو په هکله الله تعالی فرماي: « كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ* وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ» ژباړه: « هغوی (د هغې ورځې له راتګ څخه مخکي) د شپې له مخي ډېر لږ ویده کېدل، بیا دوی د شپې په

وروستيو شپېو کښي (د الله څخه) بخښنه غوښتله؛» په بل ځای کې الله تعالی فرمايي: «تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ*فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ» ژباړه: «(د تهجد لپاره) د بسترو څخه پاڅيږي، خپل رب ته له ويري اوهيلي سره خپله غوښتنه وړاندي کوي. او څه روزي چي موږ ورکړې ده، له هغې څخه لګښت کوي، و د سترګو يخېدو کوم وسائل چي د هغو د عملونو په مکافات کښي د هغو لپاره پټ کړای شوي دي، هيڅ ساکښ پرې خبر نه دی».
د شپي لمونځونه کول بايد په روژه کې په ځانګړې توګه په آخرو لسو شپو کې زيات شي ترڅو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په نقش قدم باندې ولاړشو ځکه نبي صلى الله عليه وسلم د روژي د مياشتي په آخرو لسو شپو او ورځو کې ډير کوښښ او اجتهاد کولو د حضرت عائشي رضی الله عنها څخه روايت دی وايي: کله چي د روژي آخرنی لس شپی او ورځې راغلي نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم به زيات عبادت کولو او له خپلو ميرمنو څخه به ليري کيدلو او د شپي به يي لمونځونه کول او خپل اهل به يي د خوب څخه ويښولو، همدارنګه حضرت عائشي رضی الله عنها ويلی: پيغمبر صلى الله عليه وسلم د روژي په شلو لومړنيو شپو او ورځو کې لمونځونه او خوب کولو خو په آخرنی لسو شپو او ورځو کې به د خپلو ميرمنو څخه جلا کيدلو او زيات عبادت به يي کولو، په بل روايت کې راغلي پيغمبر صلى الله عليه وسلم د روژي په آخرنی لسو شپو او ورځو کې تر بل هر وخت عبادت زيات کولو.
يقينا روژي مبارکه مياشت ده چې اتلان زيږوي ځکه د نفسي خواهشاتو مخنيوی کوي آرامي رامنځته کوي ضميرونه ويخوي سلوک جوړوي کړه وړه د انسان برابروي پداسي ډول چې اخلاقې او بشري ارزښتونو ته درناوی کوي اخلاق جوړوي ترڅو د انسان سلوک ورسره خه شې او د ژوند په ټولو چارو کې په سمه توګه پرمخ ولاړ شې د حقونو ساتنه او

وجایب ادا کوي او هڅه کوي ترڅو د خپل ځان ټولني هیواد او د ملت لپاره هر ډول خیر ښیګڼه ورسوي چې په ترڅ کې د ټولني په برقراری او وده کي ونډه واخلي، او د خلکو ترمنځ مینه محبت او د رحمت روح خپور شي ددي تر څنګ نور هم لوړې معناګانې لرې چې د ولسونو د ودي او پرمختګ کې ونډه آخلې.
نو مونږ باید هڅه وکړو ترڅو ددغو ورځو څخه په ذکر دعا د قرآن کریم تلاوت کولو سره ګټه پورته کړو او هر هغه کار وکړو چې الله تعالی ته پري نږدی کیږو ترڅو پدغو مبارکو شپو او ورځو کې د الله تعالی د رحمت څخه محروم پاتي نشو لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: یقینا الله جل جلاله د کال په ځانګړو ورځو کې خپلي مهرباني او رحمتونه په تاسو باندی نازلوي نو تاسو کوښښ وکړئ چې دغه رحمت او مهرباني لاسته راوړئ ځکه چې که چیرته په تاسو کې کوم یو دغه مهرباني او رحمت لاسته راوړي نو هغه هیڅکله هم نه بدبخته کیږي.

ربنا تقبل منا إنك أنت السمیع العلیم، وتب علینا إنك أنت التواب الرحیم.